
# د پښتو

## د زده‌کړې اساسي قابلیتونه



**لومړی ټولګی**

---

### بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

## سریزه

دا کتاب د ښوونکي له دري، پښتو او رياضی د مؤخذ کتابونو د سلسلی څخه يو کتاب دی کوم چې په ۱۹۹۹ کال د تجربه کارو افغانی تعليم يافته پوهانو د يوی ډلی پواسطه ترتيب شوی تر څو له ښوونکو سره د لازمی قابليتونو په زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي کوم چې د لومړنيو تعليماتو پروګرام په تدريس کې ضروری دي. دا مواد د ډول ډول موادي منابعو په اساس په خاص ډول د موجوده افغانی لومړنيو درسی کتابونو څخه ترتيب شوی دي.

دا انکشافی کتابونه په لاندې ډول ترتيب شوی دي.

- پدی برخه کی شپږ کتابونه (د اول تر شپږم ټولګی پوری) موجود دي چې هر يو يې د يو ټولګی لپاره دی.
- هر کتاب يې د ژبی د قابليتونو په يو لست مشتمل دي چی دا قابليتونه د مربوط ټولګی د سويې ښکارندوی دی، او ښوونکی سره په دی هکله مرسته کوی چې کوم لازمی قابليتونه بايد تدريس شي.
- د لومړی ټولګی لپاره قابليتونه عبارت دي له د لوستلو آمادګی، د مهارتونو زده کول، او د ليکلو مهارتونه (انشأ).
- دوهم نه تر شپږم ټولګي پوري قابليتونه عبارت دي له:

اوریدل او لوستل، لغات، د مفاهیمو درک کول، گرامری جوړښتونه، املأ او انشأ.

- د پنځم او شپږم ټولگیو لپاره د مطالعې مهارتونه اضافه شویدي.

په لست کې ذکر شوو قابلیتونو هر یو په خاصو لسانی مهارتونو تقسیم شوی دي تر څو چې د ماشومانو مختلفو سویو انکشاف ته ځواب ووایي. د ښوونکی سره په پوهه کې مرسته کوی چې کوم مشخص لسانی انکشافی مهارتونه ضروری دي چې باید په هر ټولگی کې وښودل شي.

د هر ټولگی کتاب د هغه لسانی انکشافی مهارتونو مثالونه وړاندی کوي چې سرته رسول یې په یو خاص ټولگی کې ضروری دي.

- دا مثالونه په لومړی ټولگی کښې د تورو، کلمو او لندو متنونو په باره کې دي.

- د دوهم ټولگی څخه تر شپږم ټولگیو پوری مثالونه په لاندی ډول ترتیب شوی دي:

**د مفاهیمو درک:**

کم لوسته متنونه د مفاهیمو د درک د سوالونو سره چې د اوریدلو او لوستلو مهارتونه د مفاهیمو د درک په اړوند وازمایي.

**گرامری جوړښتونه:**

گرامری جوړښتونه د تمرینونو هغه مثالونه وړاندی کوي چې تدریس يې د هر ټولګی په سویه ضروری دی.

**املا ء:**

د املا ء د خاصو مقرراتو او قوانینو هغه مثالونه وړاندی کوی چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږي.

**انشأ:**

- د لیک د تمرینونو مثالونه وړاندی کوې چې په تدریج سره مغلق او مشکل کیږی.

دا مثالونه ښوونکي سره په لاندی ډول مرسته کوي:

- دا امر یقینی کوی چی ټول ښوونکی مربوط مهارت په یو ډول استعمالوی .

- ښوونکي کولای شی چی دا مثالونه د دی لپاره چی آیا زده کوونکي مربوط مهارت زده کړی ده یا نه؟ استعمال کړی.

- ښوونکی کولای شی چی د دغه مثالونه په شان نور تمرینونه زده کوونکی لپاره جوړ کړی.

دا مؤخذ کتابونه نه یوازی د ښوونکو د استعمال له پاره دی بلکه د ښوونکو روزونکی هم ورڅخه استفاده کولای شی. چی د دې کتابونه

څخه د زده کوونکي د پوهې د آزموینې د پاره هم کار واخلی تر څو
چې د زده کوونکي مهارتونو ته انکشاف ورکړای شي.
ښوونکي کوولای شي چه اضافي مثالونه د تمرینونه له مخې جوړ کړي.

مفتیش (سوپروایزر) د دې لپاره مثالونه استعمالولای شي، چې معلوم کړي
ماشومان په لسان کی لازمی قابلیتونه زده کړي دي یا نه؟
ترتیب کوونکي پدې هیله دي چې ټول افغاني ښوونکي به ذکر شوي مواد
(کتابونه) له ماشومانو سره د کار کولو په برخه کی مفید او ګټور ومومي.

## دا کتابونه د لاندیني موسسو په ګډون ترتیب شوی دي:

| | | |
|---|---|---|
| OI/HEP | Ockenden International | |
| | Hangu Education Program | د هنګو د ښووني او روزني پروګرام |
| UNCHS/ Habitat | United Nation Center for Afghanistan | هبیتات |
| IRC | International Rescue Committee | د ژغورني نړیواله کمیته |
| SCA | Swedish Committee for Afghanistan | د سویډن کمیته د افغانستان دپاره |
| SAB | Solidarite Afghanistan Belgium | د بلجیم سره د همبستګی اداره |
| GTZ-BEFARE | Basic Education for Afghan Refugees | د افغان د مهاجرو لپاره اساسی زده کړی |
| AIL | Afghan Institute of Learning | د افغان آموزشی انیستیتوت |
| CARE | Cooperative Assistance Relief Everywhere | پاملرنه |
| PSD | Partners for Social Development | د اجتماعی ترقی همکاران |
| SCF-US | Save the Children Federation - US | د ماشومانو د حمایي موسسه |
| NAC | Norwegian Afghanistan Committee | ناروی کمیته د افغانستان له پاره |
| ECAR | Education Committee for Afghan Refugees | د افغان مهاجرینو د ښووني او روزني کمیته |

| | | |
|---|---|---|
| AMNA | Creation of the Pilot Schools in Afghanistan | د نمونه يي ښوونځيو تشکيل په افغانستان کې |
| HCI | Human Concern International | د بشری مرستو بين المللی موسسه |
| Unicef | United Nation Children Fund | يونيسف |
| CCA | Cooperation Center for Afghanistan | متا |
| ASC | Afghanistan Study Center | د افغانستان د مطالعاتو مرکز |
| ISRA | Islamic Relief Agency | د اسرا اسلامی خيريه موسسه |
| | Afghan Teachers and Schools Union in Quetta | د کويټه د افغانی ښونځيو او معلمينو اتحاديه |

# د پښتو دزده کړې اساسي قابليتونه

## د لومړۍ ټولګی

### د لوستلو تياري:

ماشوم به وکولای شي چې:

- لفظي ويناووې د يو تصوير سره ارتباط ورکړي.
- په يوه کيسه کې د تصويرونو نومونه واخلي.
- د تورو آوازونه د تورو سره ارتباط ورکړي.
- د تورو آوازونه د کلمې په اوريدو سره په لومړي حالت کې تشخيص کړای شي.
- د کلمو په منځني او وروستني حالت کې د تصاويرو تشخيص له آوازونو سره وکړي.
- د لنډو او اوږدو آوازونو تفريق او تشخيص وکړي.
- د کلمې د تشکيل په خاطر آوازونه سره يو ځای کړي.
- توری تلفظ کړي.
- د دوه کلمو يو شانته والی او توپير وپيژني.
- د کلماتو د مجموعې نه يوه کلمه انتخاب کړي کومه چې توپير لري.
- يو آوازه کلمې ولولي.
- ورته کلمات تلفظ کړي.

## د مفاهیمو درک:

ماشومان به وکولای شی چې:

- په یوه کیسه کې د لومړۍ پیښې مفهوم بیان کړي.
- په یوه کیسه کې د وروستي پېښې مفهوم بیان کړي.
- په یوه کیسه کې د منځنۍ برخې مفهوم بیان کړي.
- په داسې ترتیب سره د کیسې کارتونو ته ارتباط ورکړي چې د کیسې مفهوم واضح کړي.
- د دې ځای او هغه ځای مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د تداوم (فعال او غیر فعال) مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د مخکې او شاته مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د ښي او کین مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د اوس مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د ورځې او شپې مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د پخوا او وروسته مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د مخکې له وخت او وروسته له وخت مفهوم تشخیص او بیان کړي.
- د اونۍ ورځې تشخیص او بیان کړي.

## د لیکلو مهارتونه:

ماشوم به وکولای شي چې:

- تورو ته ارتباط ورکړي.
- د تورو شکلونه نقل کړي.

- توری ولیکئ.
- خپل نوم نقل کړی.
- د مختلفو تورو د مجموعی څخه توری تشخیص کړی.
- کلمو ته سره ارتباط ورکړی او جملې ترې جوړې کړی.
- د مختلفو کلمو د مجموعی څخه کلمه وټاکی.
- داسی جملو ته سره ارتباط ورکړي چې د (۳-۵) پورې کلمی ولری.

**لفظی بیان :**

ماشوم به وکولای شی چې:

- حال زمانه بیان کړی.
- ساده صفات استعمال کړی.
- شخصی ضمایر لکه زه، هغه ښځه، هغه سړی، هغوی، مونږ، تاسی استعمال کړی.
- څلور کلمه يي جملی ولولی.
- تمليکی ضماير د هغه، هغی، زما، د هغوی، زمونږ، استعمال کړی.
- د درلودلو فعل استعمال کړی.
- ساده ماضی زمانه استعمال کړی.
- د نومونو جمع استعمال کړی.
- منفی استعمال کړی.
- سواليه اشکال استعمال کړی.
- ارتباطی توری استعمال کړی.
- مقايسوی صفات استعمال کړی.


# لومړی ټولګی

## پښتو


کوچنیان به وکولای شي چې :

- د توري آواز وپېژني او ووایي.
- د توري نوم او شکل وپېژني، ولیکي او ووایي.
- د توري شکل د کلمې په سر ، منځ او پای کې وپېژني او تشخیص کړي.
- توری په جلا ډول او په کلمه کې وپېژني، ولولي او ولیکي.

## مصورې کلمې:


دام


دارو


دایره


داش

### داش

د ا ش

د ـد

دا

دادا

داش

د دادا داش

د

ا

ادا

اش


| | | |
|---|---|---|
| د | د | ______ |
| ـد | ـد | ______ |
| دا | دا | ______ |

## مصورې کلمې:


شیدې


شمع


شال


شکور

## شال

شـ ـا ل

ش ـشـ شـ

شا

شال

داش

د دادا شال

د داش شا


شا د داش

| | |
|---|---|
| د | د ---------- |
| ـد | ـد ---------- |
| داش | داش ---------- |
| شال | شال ---------- |

یو ډول کلمې دې سره ونښلول شي.

| | |
|---|---|
| داش | شا |
| شا | دا |
| دادا | داش |
| دا | دادا |

مصوري كلمي:



لاس

لـ ا س

ل ا لـ

لالا

لاس

د لالا لاس

د لالا شال

شال د لالا

س

لا


لا

ل ل ________________________________________

لـ لـ ________________________________________

لا لا ________________________________________

مصورې کلمې:

آس

آ س

آ

آس

آش

د لالا آس

آس د لالا

د دادا آس

د دادا د آس شا

آ ← س

آ ← ش

تمرین:

یو ډول کلمې دې سره ونښلول شي.

آ آ ______


آس آس ______

| | |
|---|---|
| آس | لاس |
| آش | آس |
| لاس | آش |

مصوري کلمې:


سرک


ساړه


سالو

سالو

سـ ـا لـ ـو

س سـ

سا

سالو

آس

دا سالو

دا آس

د اسد آس

آس د اسد

س س

سـ سـ


سا سا


آس آس

ا سد ا سد

مصورې کلمې:







لور

لـ و ر

و ـو

لور

شور

سور

د لالا د آس شور

د دادا لور

د اسد لور


لور د اسد

د آس د شا سور

تمرین: یو ډول کلمې دې سره ونښلول شي.

| | |
|---|---|
| و و ______________ | لور سور |
| و و ______________ | سور شور |
| لور لور ______________ | شور لور |

مصورې کلمې:


تار

تـ ـا ر

ر

لار

رود

سر

سارا

سردار

د رود **لار**

د سارا **سالو**

د **سالو** تار

د سردار آس

د سر سالو

سـ — ردار


سـ — ارا

سـ — ر


**تمرین:**

| | | |
|---|---|---|
| **ر** | ر | ________________ |
| **تار** | ر | ________________ |
| **رود** | رود | ________________ |

مصوري کلمې:








**توت**

**تـ ـو ت**

**ت ـتـ ـت**

**توت تور تود**

**ستا ستاسو ترور**




**تود شال تور توت**

**تور تار ستا شال**



**ستاسو تار تش لاس**

**د سارا ترور تور شال**

**تمرين:**

| | | |
|---|---|---|
| **ت** | ت | ------------------------------ |
| **تـ** | تـ | ------------------------------ |
| **ـتـ** | ـتـ | ------------------------------ |
| **توت** | توت | ------------------------------ |
| **ستا** | ستا | ------------------------------ |

مصورې کلمې:

**تله**

تـ لـ ـه

هـ ه ـه

اره شته تره

ته ده هلال

راشه دلته هلته

**تله دلته ده.**

**دا د هلال اره ده.**

**د سارا ترور هلته شته؟**

**هو، د سارا ترور دلته شته.**

**هلاله، راشه!**

تش ځايونه دې په مناسبو کلمو ډک شي.

تله اره هلته

دا ______ ده .

دا د هلال ______ ده.

د سارا ترور ______ شته ؟

تمرين:

ه ه ____________


هـ هـ ____________

اره اره ____________

هلته هلته ____________

تله تله ____________

مصورې کلمې:


تاج

تـ ـا ج

ج جـ ـجـ ـج

جال جارو جاده جلال تاج


دا جارو ده .
دا د سارا جارو ده .
دا جاده ده
د جلال تاج
د سارا تاج
د جلال جال

جا — ل
جا — رو
جا — ده

تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| ج | ج | ________ |
| ج | جـ | ________ |
| ـجـ | ـجـ | ________ |
| ـج | ـج | ________ |
| تاج | تاج | ________ |
| جال | جال | ________ |

مصوري کلمې:





جام

جـ ـا م

م ـمـ

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| جامه | مور | ماما | سلام | مال |
| جمال | اجمل | مشر | مرسته | |

د دادا جام

دا د ماما جامه ده .

د سارا مور مشره ده .

دا د مور مرسته ده.

دا د سارا جارو ده .

دا د جمال مور ده.

اجمله، راشه .

تمرين:

په تشو ځايونو کې دې مناسبې کلمې ولیکل شي.

د دادا ______

______ راشه.

دا ______ ده.



مور

جماله

جام

| | | |
|---|---|---|
| م | م | ______ |
| ـمـ | ـمـ | ______ |
| ـم | ـم | ______ |
| جام | جام | ______ |
| مور | مور | ______ |

مصوري کلمې:


تاک

ت ـا ک

ک کـ ـک

کاکا کامله کار اکرم کور

سرک شاکر شکور کشر

د کاکا تاک

د اکرم تاک

د شاکر د کور سرک

کشر ورور



مور د کور مشره ده.

جماله د کور کشره ده.

**تمرین:**

رسمونه دې له کلمو سره ونښلول شي:

| | | |
|---|---|---|
| ک | ک | ---------- |
| کـ | کـ | ---------- |
| ـک | ـک | ---------- |
| تاک | تاک | ---------- |
| کشر | کشر | ---------- |
| شکور | شکور | ---------- |


تاک

کور

ناك

مصورې کلمې:

وری

ی

شی دی کلی وری

دا د اکرم کلی دی.

دا د شکور وری دی.

دا شی د کاکا دی.

دا شی وری دی.



تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| ی | ی | ______________ |
| ی | ی | ______________ |
| وری | وری | ______________ |
| کلی | کلی | ______________ |

پو ډول کلمې دې سره ونښلول شي.

| | |
|---|---|
| وری | دی |
| شی | کلی |
| کلی | وری |
| دی | شی |

مصورې کلمې:

| ي | ې | ۍ | ئ |
|---|---|---|---|
| کلي | مېوې | مرۍ | لولئ |

ي { کلي، لري } دا کلي ده.
کلي دلته ده.

ې { کوې، لرې } توت مېوه ده.
ته کار کوې.

ۍ { تبۍ، مرۍ } ته تبۍ لرې ؟
د سارا سالو مرۍ لري.

ئ { لولئ، کوئ } تاسو درس لولئ.
تاسو کار کوئ.



**تمرین:**

یو ډول کلمې دې سره ونښلولې شي.

| | |
|---|---|
| کلي | لري |
| لري | لولی |
| لرې | کوی |
| لولی | کلي |
| کوی | لري |
| مرۍ | مرۍ |

| | | |
|---|---|---|
| ي | ي | ______________ |
| يـ | يـ | ______________ |
| ـېـ | ـېـ | ______________ |
| ۍ | ۍ | ______________ |
| ئ | ئ | ______________ |
| کلي | کلي | ______________ |
| مېوه | مېوه | ______________ |
| مرۍ | مرۍ | ______________ |
| کوئ | کوئ | ______________ |

## مصورې کلمې:

بادام

بـ ـا د ا م

ب بـ ـب

بادام
بس
کتاب
بابا
بجه
کتاب

دا بادام دی.
بادام دلته دي.
کتاب هلته دی.
اوس يوه بجه ده.
دا د مور کتاب دی.
سارا کتاب لولي.
دا بس دی.

## تمرين:

دا  دی.

دا ______ دی.


دا  دی.


دا ______ دی.


| | | |
|---|---|---|
| ب | ب | ______ |
| بـ | بـ | ______ |
| ـبـ | ـبـ | ______ |
| ـب | ـب | ______ |
| کتاب | کتاب | ______ |
| بادام | بادام | ______ |
| بلبل | بلبل | ______ |

16

## مصورې کلمې:







# انار

ا نـ ا ر

ن نـ ـن

نشته
نادر
انار
ناک
نوم
نوک
نن
باران
ونې
ونه
نه
نور
لاندې



دا انار سور دی.
نن باران اوري.
ستا د نېکه نوم نادر دی.
د انا نوم جمیله ده.
دا د انار ونې دي.
دلته د نارنج ونه شته؟
نه، دلته د نارنج ونه نشته.
هلته د انار ونه شته؟
هو، هلته د انار ونه شته.
نادر تر ونې لاندی ناست دی.

| | | |
|---|---|---|
| ن | ن | ________________ |
| ـنـ | ـنـ | ________________ |
| نـ | نـ | ________________ |
| باران | باران | ________________ |
| نارنج | نارنج | ________________ |

نا — رنج / در / ک

نو — م / ر

مصورې کلمې:

# پیاله

پـ یـ ـا لـ ـه

پ　　پـ　　ـپـ



| | |
|---|---|
| پیشو | دا د انا پیاله ده. |
| پلار | دا د اسد توپ دی. |
| پر | د پلوشې د پلار نوم پوپل دی. |
| توپ | پوپل پاس ناست دی. |
| پوپل | پیشو پر دېوال ناسته ده. |
| پاک | پلوشې کور ته پام کوه. |
| پاس | دا پیاله پاکه ده |
| پام | پلوشه په کور کې ده. |
| په... کې | نادر یو پوه هلک دی. |
| پلوشه | |
| تپه | |

| | | |
|---|---|---|
| پ | پ | ________________ |
| ـپـ | ـپـ | ________________ |
| پـ | پـ | ________________ |
| توپ | توپ | ________________ |
| پیاله | پیاله | ________________ |
| لپه | لپه | ________________ |

پو ← ر / ره / پل

پا ← ک / م / س

## مصورې کلمې:


زمری


ز مـ ـر ی

ز ـز



زه
زینه
زرکه
مېز
نازو
زما
پزه
زور
زنه
زوی
زرین
زرمینه

زما نوم نازو دی.
کتاب د مېز پر سر پروت دی.
زرکه والوته.
زینه ماته شوه.
د نازو زنه او پزه مات شول.
تا د زمري زور لیدلی دی؟
نه، ما د زمري زور نه دی لیدلی.
زرین د زرمینې زوی دی.

| | | |
|---|---|---|
| ز | ز | ________________ |
| ـز | ـز | ________________ |
| زمری | زمری | ________________ |
| مېز | مېز | ________________ |







تر رسمونو لاندې له چوکاټ څخه د هغوی نومونه ولیکل شي.

________ ________

مصورې کلمې:

## چاینک

چـ ـا یـ ـنـ ـکـ ـه

چ ـچـ ـچ

| | |
|---|---|
| چمن | دا چمن لوی دی . |
| چاینک | دا شنه چاینکه د چا ده ؟ |
| چت | دا شنه چاینکه د انا ده . |
| چالاک | چت سوری شوی دی ؟ |
| چا | کتابچه چېرې ده؟ |
| چېرې | کتابچه د مېز پر سر ده . |
| کتابچه | دا توپ چا ته ورکوې ؟ |
| پوچ | دا توپ نازو ته ورکوم . |
| کتابچه | زمری چالاک دی . |
| مچ | دا بادام پوچ دی . |

چ چ ______

ـچ ـچ ______

ـچـ ـچـ ______

پوچ پوچ ______

چاینکه چاینکه ______

کتابچه کتابچه ______



له هغو توريو څخه درې کرښه راتاوه شي، چې کلمې ورڅخه جوړيدای شي.

چ م ن ک ت ا ب چ ه

پ و چ چ ا ی ن ك چ ا لا ك

چ ی ر ی پ و چ چ ت

مصورې کلمې:

بوټ

بـ ـو ټ

ټ ـټـ ـټ ټـ

| | |
|---|---|
| بوټ | دا کټ مات دی . |
| مټ | دا د نازو ټال دی ؟ |
| کټ | نازو ټوکه وايي . |
| ټال | زما بوټ زما په پښه کې لوی دی؟ |
| ټول | د شاکر مټ درد کوي . |
| ټوکه | ټول بوټان نوي دي؟ |
| ټوټې ټوټې | پياله ټوټې ټوټې شوه . |

تمرین:

ټ ټ ________________

ـټـ ـټـ ________________

ټـ ټـ ________________

بوټ بوټ ________________

ټال ټال ________________

د جملو په تشو ځايونو کې دې له چوکاټ څخه مناسبې کلمې وليکل شي:

نازو ____________ وايي .

دا ____________ مات دی.

____________ په چمن کې شته.




| | | |
|---|---|---|
| کټ، | ټوګه، | ټال |

ټو — ل

ټو — که

ټو — ټې

## مصورې کلمې:

# څپلۍ

څـ ـپـ ـلـ ـۍ

څ    څـ    ـڅـ

څوک

څه

څپلۍ

څادر

څیرې

ته څوک یې؟

زه اجمل یم.

ته څه کار کوې؟

زه درس وایم.

دا څادر د چا دی؟

دا څادر د نازو دی.

د چا څادر څیرې شو؟

زما څادر څیرې شو.

دا نوې څپلۍ د چا دي؟

دا نوې څپلۍ زما دي.

تمرین:

دجملو په تشو ځایونو کې دې له چوکاټ څخه مناسبې کلمې ولیکل شي.

| څه ، څپلۍ ، څادر ، څوک |
|---|

ته ____ یې؟

نادر ____ کوي؟

زما ____ څیرې شو.

دا ____ نوې دي.


څ څ ____________

څـ څـ ____________

ـڅـ ـڅـ ____________

څپلۍ څپلۍ ____________

مصورې کلمې:



# عینکې

عـ یـ نـ کـ ې

ع عـ ـعـ

| | |
|---|---|
| عینکې | دا زما د نیکه عینکې دي. |
| شمع | زه د لویانو په وینا عمل کوم. |
| عمل | دا زما د ورور عکس دی. |
| عکس | مور علاج کوي. |
| عبید | عبید په هر څه کې عدل کوي. |
| معاینه | عبید علم لري. |
| عدل | عبید شمع بلوي. |
| علاج | |

تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| ع | ع | ______ |
| عـ | عـ | ______ |
| ـعـ | ـعـ | ______ |
| عینکې | عینکې | ______ |
| شمع | شمع | ______ |
| علاج | علاج | ______ |
| عکس | عکس | ______ |



عـ

ینکې

کس

مل

دل

مصورې کلمې:

لړم

ل ړ م

ړ ـړ

| | |
|---|---|
| جوړوي | مور جوړه شوه. |
| جوړه | نجار کړکۍ جوړوي. |
| سړی | ماشوم موړ دی. |
| سوړ | دا زما وړی دي. |
| وکړ | آش سوړ شو. |
| وړی | دا سړی ړوند دی. |
| کړکۍ | دا کار چا وکړ؟ |
| | دا کار سارا وکړ. |

جو
ړ — سو
مو

تمرین:

یو ډول کلمې دې سره ونښلول شي.

| | |
|---|---|
| مړی | کړکۍ |
| کړکۍ | سوړ |
| سوړ | موړ |
| موړ | مړی |

| | | |
|---|---|---|
| ړ | ړ | ________ |
| ـړ | ـړ | ________ |
| لړم | لړم | ________ |
| موړ | موړ | ________ |

## مصورې کلمې:





خټکی

خ     خـ     ـخـ


خالد
خټګر
خرڅوي
خټه
پخوي
خدای
خوري
خواږه
ملخ

خدای(ج) یو دی. خدای(ج) شریک نه لري.
دا د خالد خولۍ ده.
خالد خټکي خرڅوي.
مور خواږه پخوي.
خالد ملخ نیولی دی.
خټګر خټې کوي.
ملخ الوزي.

## تمرين:

خ خ ________________
خـ خـ ________________
ـخـ ـخـ ________________
ملخ ملخ ________________
خدای خدای ________________

د رسمونو نومونه دې د جملو په مناسبو تشو ځایونو کې ولیکل شي.




خالد  خوري.

خالد ________ خوري.

دا د خالد  ده.

دا د خالد ________ ده.

مصورې کلمې:

# مڼه

مـ ـڼـ ـه

ڼ ڼـ ـڼـ

| | |
|---|---|
| مڼه | دا مڼه ده. |
| مڼې | دا د مڼې پاڼه ده. |
| مڼو | دا د مڼو بڼ دی. |
| پاڼه | د مڼې ونې پاڼې کړې دي. |
| اتڼ | مشوانۍ چېرې ده؟ |
| پاڼې | مشوانۍ دلته ده. |
| مشوانۍ | هغه سړی کوڼ دی. |
| بڼ | ته اتڼ کولای شې؟ |
| کوڼ | نه ، زه اتڼ نه شم کولای. |

## تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| ڼ | ڼ | ________________ |
| ڼـ | ڼـ | ________________ |
| ـڼـ | ـڼـ | ________________ |
| کوڼ | کوڼ | ________________ |
| پاڼه | پاڼه | ________________ |
| مڼه | مڼه | ________________ |

له هغو تورو څخه دې کرښه تاوه شي، چې کلمې ورڅخه جوړېدای شي .

م ب ا

ڼ ڼ ت


ه ڼ


م ن ی

م ش و ا ڼ ی

ک و ڼ پ ا ڼ ه

## مصورې کلمې:







گلاب

گ ـلا ب

گ     گـ

گل- گلاب
گلاب
چرگه
مالگه
هگۍ
رنگ
مازیگر
گټه

د گلابو په بڼ کې رنگ رنگ گلان شته. د گلالۍ چرگې د گلابو په بڼ کې هگۍ واچوله. گلالۍ هغه هگۍ پخه کړه. مالگه یې وربانديې واچوله. گلالۍ هگۍ وخوړه. هگۍ خوندوره وه. هگۍ بدن ته زیاته گټه لري. ټول ماشومان باید هگۍ وخوري.

## تمرین:

گ گ ______________
گـ گـ ______________
دېگ دېگ ______________
گټه گټه ______________
هگۍ هگۍ ______________

لاندېنۍ پوښتنې دې ولوستل شي او له ځوابونه سره دې ونښلول شي.

چرگې چېرې هگۍ واچوله ؟ — د گلالۍ چرگې.
د چا چرگې هگۍ واچوله ؟ — گلالۍ.
هگۍ چا پخه کړه ؟ — گلالۍ.
هگۍ چا وخوړه ؟ — هگۍ
ماشومانو ته څه شی گټه لري ؟ — د گلابو په بڼ کې.

## مصورې کلمې:

ثمر

ثـ ـمـ ر

ث ثـ ـثـ

| | |
|---|---|
| ثمر | خیرات کول ثواب لري. |
| ثواب | وارث هر وخت خیرات کوي. |
| وارث | وارث زیات ثواب ګټي. |
| کوثر | د ګلالۍ د منو بڼ ثمر ته رسېدلی دی. |
| ثریا | کوثر د ثریا ورور دی. |
| ثور | ثریا د کوثر خور ده. |
| | ثور د پسرلي دویمه میاشت ده. |

## تمرین:

تر هغو توروو دې کرښه تاوه شي چې کلمې ورڅخه جوړېدای شي.

ث ث م ر


و و ا ر ث ث ر ي ا

ا ک و ث ر

ب

ث و ر

| | | |
|---|---|---|
| ث | ث | ________ |
| ثـ | ثـ | ________ |
| ـثـ | ـثـ | ________ |
| وارث | وارث | ________ |
| ثریا | ثریا | ________ |



مصورې کلمې:

غـوا


غـ و ا

غ ـغـ ـغ

غوا
باغ
مرغۍ
روغ
ناروغ

څوک چې غوا لري ، شیدې لري . څوک چې چرګې ساتي، هګۍ لري .
څوک چې باغ لري ، مېوې لري . شیدې ، هګۍ او مېوې بدن ته
زیاته ګټه لري. هغه ماشومان چې شیدې، هګۍ او مېوې خوري ، زیاتره
روغ وي او ښه وده کوي.
شیدې ، هګۍ او مېوې ناروغ ته هم زیاته ګټه لري.

تمرین:






| | | |
|---|---|---|
| غ | غ | ________ |
| غـ | غـ | ________ |
| ـغـ | ـغـ | ________ |
| باغ | باغ | ________ |
| غوا | غوا | ________ |

غ
و
ا

ب ا غ
ر
و
ن ا ر و غ غ
م ر غ ۍ
هـ غ ه

## مصورې کلمې:



# غاښ

غـ ا ښ

ښ ښـ

غاښونه باید سهار او ماښام مسواک یا برس شي.
څوک چې خپل غاښونه برس کوي ، غاښونه يې ښکلي ښکاري او زياتره روغ وي. د غاښونو برس کول زياته گټه لري.
نادر ښار ته ولاړ. د غاښونو کريم او برس يې واخيستل. خپل غاښونه يې پاک کړل . نادر ښه هلک دی . خپل غاښونه پاک ساتي.

غاښ
ښار
خوښ
ويښ
ښه
ماښام
ښکلي
ښکاري

## تمرين:

ښ ښ ________________
ښـ ښـ ________________
ـښـ ـښـ ________________
غاښ غاښ ________________
ښار ښار ________________
ويښ ويښ ________________

خو
غا ← ښ
ويـ




مصوري کلمې:

# ځاله

ځـ ا لـ ه

ځ ـځ ـځـ ځـ

یوه ورځ یوه مرغۍ له ځنګله څخه راوالوتله.
یوه کلي ته ولاړه. په یوه ونه کې یې ځاله جوړه کړه. پنځه دانې هګۍ یې واچولې، څو ورځې وروسته یې بچې وایستل. بله ورځ سخت باران وشو . د مرغۍ ځاله پر مځکه راولوېده . زلمی ښوونځي ته روان و . ځاله یې ولیده، چې د مرغۍ له وړو بچیو سره پر مځکه پرته ده . زلمي ځاله د مرغۍ له بچیو سره له مځکې څخه پورته کړه. زلمی ونې ته وخوت. ځاله یې په ونه کې بېرته په خپل ځای کې کښېښووده . د مرغۍ بچي زیات خوشحاله شول.

ښوونځی
ځنګل
ځاله
پنځه
ورځ
مځکه

## تمرین:

ځ ځ ________
ځـ ځـ ________
ـځـ ـځـ ________
ـځ ـځ ________
ورځ ورځ ________
ځاله ځاله ________
ښوونځی ښوونځی ________

لاندېنیو پوښتنو ته دې ځوابونه وویل شي.

مرغۍ ولې کلي ته ورغله؟

مرغۍ څو دانې هګۍ اچولې وې؟

د مرغۍ ځاله ولې پر مځکه لوېدلې وه؟

د مرغۍ ځاله چا بېرته په ونه کې کښېښووده؟

مصورې کلمې:



## ډوډۍ

ډ و ډ ۍ

ډ ـډ

ډېر
ډېوه
ګېډۍ
ګېډه
ډاکتر

ګلالۍ یوه شپه ډېره ډوډۍ خوړلې وه. ګېډې یې زیات درد کاوه، ډېره تیاره وه. ګلالۍ وېرېدلې وه. خپلې مور ته یې نارې کړې. مورې یې ډېوه ولګوله. ویې لېده چې ګلالۍ ناروغه ده. ګلالۍ یې سمدستي ډاکتېرې ته بوتله. ډاکتېرې ګلالۍ ته دوا ورکړه او بېرته یې کورته واستوله . د ګلالۍ ملګرې ګلالۍ ته د ګلانو یوه ګېډۍ واخیسته او د ګلالۍ پوښتنې ته ورغله. ګلالۍ خوشحاله شوه او خدای پاک ګلالۍ ژر جوړه کړه.


| | |
|---|---|
| ډ ډ | ______________ |
| ـډ ـډ | ______________ |
| ډوډۍ ډوډۍ | ______________ |
| ګېډې ګېډې | ______________ |

تمرین:

لاندېنۍ پوښتنې دې ولوستل شي. هر ځواب دې له خپلې پوښتنې سره ونښلول شي.

| | |
|---|---|
| ګلالۍ ولې ناروغه شوې وه؟ | د ګلانو یوه ګېډۍ یې ورووړه. |
| د ګلالۍ کوم ځای درد کاوه؟ | ډوډۍ یې زیاته خوړلې وه |
| ډاکتېرې ګلالۍ ته څه شی ورکړ؟ | ګېډې |
| د ګلالۍ ملګرې ګلالۍ ته څه شی ور ووړ؟ | دوا |

مصورې کلمې:





# مېږی

ی ږ ـېـ م

ـږ ږ

| | |
|---|---|
| مېږی | يوې کوترې په يوه ډند کې يو مېږی وليد . اوبه ډېرې وې. نژدې و چې مېږی په اوبو کې ډوب شي . کوترې يوه پاڼه په اوبو کې واچوله، مېږی پر پاڼه وختوت . الله پاک مېږی له مرگ څخه وساته. بله ورځ يو ښکاري دا کوتره ويشتله. د مېږي ورته پام شو. د ښکاري پښه يې وچيچله . د ښکاري لاس وښوريد . وار يې بې ځايه ولاړ او کوتره والوته. |


تمرين:


| | |
|---|---|
| ږ ږ | ------------------ |
| ـږ ـږ | ------------------ |
| مېږی مېږی | ------------------ |

په لاندېنيو کلمو کې دې تر " ږ" کرښه تاوه شي.

| | | |
|---|---|---|
| سپوږمۍ | غوږ | غږ |
| مېږی | لږ | زموږ |
| ږلۍ | ږيره | موږ |
| تږې | يادېږي | اوسېږي |

مصوري کلمې:





## ژمی

ژ   مـ   ی

ژ   ـژ

ژمی
ژر
نژدې
ژوند
ژوی

په ځینو ځایو کې ژمی ډېر سوړ وي. ورځې ژر ژر تېرېږي. په سړه هوا کې ژوند سخت وي. ټول ژوي غواړي چې ژمی ژر ووزي. څومره چې پسرلی نژدې کېږي، خلک خوشحالېږي.

تمرین:

ژ ژ ______________

ـژ ـژ ______________

ژمی ژمی ______________

نژدی نژدی ______________

له چوکاټ څخه دې مناسبې کلمې په تشو ځایونو کې ولیکل شي .


ژمی
ژوند

په ______ کې هوا ډېره سړه وي.

په سړه هوا کې ______ سخت وي.

د (ژ) توری دې په لاندېنیو کلمو کې پیدا او کرښه ترې تاوه کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| ژمی | ژوند | ژر |
| ژوی | نژدې | ژبه |
| | ژوبڼ | |

## مصورې کلمې:

### ذره بین

ذ ر ه بـ یـ ن

ذ ـذ

ذره بین
ذاکر
ذکي
کاغذ
نذیر

ذاکر د ذکي ورور دی.
ذکي له ذاکر سره لوبې کوي.
ذکي او ذاکر له کاغذ څخه د لوبو شیان جوړوي.
نذیر د دوی دوست دی.
د نذیر سترګې کمزورې دي، عینکې اچوي.
د نذیر عینکې ذره بین لري.
په ذره بین کې واړه شیان لوی ښکاري.

| | | |
|---|---|---|
| ذ | ذ | ________ |
| ـذ | ـذ | ________ |
| ذاکر | ذاکر | ________ |
| کاغذ | کاغذ | ________ |

کلمې دې ولیکلای شي.

ذ — ره بین
ذ — کي
ذ — اکر

د جملو په تشو ځایو کې دې له چوکاټ څخه مناسبې کلمې ولیکل شي .

په ______ واړه شیان لوی ښکاري.
د ______ سترګې کمزورې دي.
ذکي د ______ ورور دی.

| |
|---|
| ذاکر |
| ذره بین |
| نذیر |

مصورې کلمې:



# طوطي

ط و ط ی

ط ـط

| | |
|---|---|
| طوطي | طوطي او يو طاووس سره ملګري شول . يوه ځنګله ته ولاړل. |
| طاهر | طاووس طوطي ته وويل : «زه د اوسېدو له پاره ځای پيدا کوم، ته |
| طالب | د خوړو ځای پيدا کړه.»، طاووس د اوسېدو له پاره يو ښه ځای پيدا |
| طیاره | کړ. طوطي ولاړ، کرار پر يوه ونه کښېناسته، په سندرو يې پيل وکړ. |
| طاووس | ماښام شو . طوطي تش لاس راغی. هغه شپه طاووس او طوطي په |
| | لوږه تېره کړه . طوطي ټوله شپه خفه و . طاووس ته يې وويل: «نور |
| | به داسې نه کوم.» سهار وختي پاڅېږم او خواړه پيدا کوم. |

تمرين:

د جملو تش ځايونه دې د چوکاټ په مناسبو کلمو ډک کړای شي .

طاووس د اوسېدو ______ پيدا کړ.

______ په يوه ونه کې کښېناسته او په سندرو يې پيل وکړ.

يو طوطي او يو ______ سره ملګري شول.

طوطي
طاووس
ځای


ژ ژ ______

ـژ ـژ ______

ژمی ژمی ______

نژدې نژدې ______

## مصوري کلمې:





# فیل

ف ـیـ ـل

ف ـفـ ـف

فیل

فابریکه

افغان

افغانستان

موږ د افغانستان یو . افغانستان د افغانانو وطن دی. په افغانستان کې ډېرې فابریکې شته . عارف په فابریکې کې کار کوي. فابریکې ته نږدې یو ژوبڼ دی. په دې ژوبڼ کې هر ډول ځناور شته. د عارف فیل ډېر خوښ دی. او هر وخت د فیل د لیدلو له پاره ژوبڼ ته ځي. فیل اوس د عارف ملګری شوی دی.

ف ف ________________

ـفـ ـفـ ________________

ـف ـف ________________

عارف عارف ________________

افغان افغان ________________

______ نستان

عا______

______ بریکه

فا


افغا

رف

ترهغو تورو دې کرښه تاوه شي چې کلمې ترې جوړېدای شي .

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ف | ف | ی | | ل | | |
| ف | ا | ا | | ع | ا | ر | ف |
| غ | ب | ف | | ف | ر | ی | د |
| ا | ر | غ | | | | | |
| ن | ک | ا | | | | | |
| | ه | ن | | | | | |

مصورې کلمې:



قلم

قـ ـلـ ـم

ق قـ ـقـ

قلم

قادر

فاروق

سبق

قادر په خپل ټولګي کې اول نومره شو . مور يې يو قلم ورکړ.
له قادر څخه قلم ورک شو .
د قادر قلم فاروق پيدا کړ.
فاروق قلم بېرته قادر ته ورکړ.
قادر له فاروق څخه ډېر خوشحاله شو.
قادر او فاروق اوس ډېر ښه دوستان دي.
فاروق او قادر زياتره يو ځای سبق وايي.

| | | |
|---|---|---|
| ق | ق | |
| قـ | قـ | ______________ |
| ـقـ | ـقـ | ______________ |
| فاروق | فاروق | ______________ |
| قلم | قلم | ______________ |


له توروڅخه دې کلمې جوړې شي:


| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ق | ف | ط | ا | د | ر |
| ل | و | ب | ذ | ک | غ |
| ړ | ی | ډ | ج | ښ | ځ |

______ ______ ______

______ ______ ______

______ ______ ______



مصوري کلمې:

# صابون

صـ ا بـ و ن

ص صـ ـصـ

| |
|---|
| صابره د بصیر خور ده. پرون د دوی په کور کې صابون خلاص شوی و. صابر دوکان ته ولاړ. صابون یې راووړ . صابره او صابر همېشه تر ډوډۍ خوړلو مخکې او وروسته خپل لاسونه په صابون مینځي . دوی خپل ځانونه، جامې او لوښي هم په صابون مینځي . صابون هر شی پاکوي. |

صابر

صابون

صابره

خلاص

بصیر

| | | |
|---|---|---|
| ص | ص | ______________ |
| صـ | صـ | ______________ |
| ـصـ | ـصـ | ______________ |
| خلاص | خلاص | ______________ |
| صابون | صابون | ______________ |

صا ← بر ________

صا ← بره ________


صا ← بون ________

د چوکاټ ف لرونکې کلمې دې ف او ص لرونکې کلمې دې ص توري ته مخامخ ولیکل شي.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فیل | صابون | صادق | فابریکه | |
| بصیر | افغانستان | صابر | عارف | خلاص |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ف | _____ | _____ | _____ |
| ص | _____ | _____ | _____ |

مصورې کلمې:



## حوض

ح و ض

ض ـضـ ـض

| | |
|---|---|
| حوض<br>فرض<br>قاضي<br>افضل<br>فيض | د افضل په کور کې يو لوی حوض دی . افضل هره ورځ حوض له تازه اوبو ډکوي . افضل هره ورځ په حوض کې لامبی .<br>فيض د افضل ورور دی. فيض قاضي دی. فيض لمونځ نه قضا کوي. لمونځ پر مسلمانانو فرض دی. |


## تمرين:

د چوکاټ ق لرونکې کلمې دې ق او ض لرونکې کلمې دې ض توري ته مخامخ وليکل شي:

| | | |
|---|---|---|
| ض | ض | ________ |
| ضـ | ضـ | ________ |
| ـض | ـض | ________ |
| حوض | حوض | ________ |
| افضل | افضل | ________ |

قلم ، افضل، قضا، قاضي، فيض، صندوق، فاروق، فرض، قادر، سبق

| | | | |
|---|---|---|---|
| ق | ____ | ____ | ____ |
| ض | ____ | ____ | ____ |



مصورې کلمې:

حج

حـ ج

ـجـ ـج

| | |
|---|---|
| حج کول پر مسلمانانو فرض دی. هر مسلمان چې شتمن وي، باید حج وکړي. حج د اسلام پنځمه بنا ده.<br>حضرت محمدﷺ د الله(ج) پیغمبر دی. مونږ مسلمانان د حضرت محمدﷺ امت یو.<br>حامد د احمد پلار دی. حامد حج وکړ. حامد حاجي دی. خلک ورته حاجي صاحب وایي. حامد احمد ته د حق لاره ښیي. اسلام حق دین دی. احمد هم حج ته ځي. | صبح<br>حق<br>صاحب<br>حاجي<br>حامد<br>احمد<br>محمد<br>حضرت |

| | |
|---|---|
| ح ح | __________ |
| حـ حـ | __________ |
| ـح ـح | __________ |
| حج حج | __________ |
| حضرت حضرت | __________ |


متن دې ولوستل شي او هغه کلمې دې په چوکاټ کې ولیکل شي چې د ح توری لري.

ح

| حج | محمد |
|---|---|
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |
| ______ | ______ |

ح ⟨ ق، ج

مصورې کلمې:

ظرف

ظ ر ف

ظ ـظ

| | |
|---|---|
| ظرف | ظرفونه دې پاک وساتل شي. |
| ظرفونه | ظرفونه دې په صابون پاک پرېولل شي. |
| ظریف | ظرفونه دې لمرته کښېښودل شي. |
| نظیر | د ناروغ سړي ظرفونه دې بېل وساتل شي. |
| نظیفه | د ناروغ سړي ظرفونه دې په ایشېدلو اوبو او صابون پاک پرېولل شي. |
| | د ناروغ سړي په ظرف کې ډوډۍ مه خورئ. |
| | ظریف او نظیر په پاک ظرف کې ډوډۍ خوري. |
| | نظیفه له ډوډۍ خوړلو نه وروسته ظرفونه په صابون مینځي. نظیفه د ظرفونو پر سر جالۍ اچوي او ظرفونه لمر ته ږدي. |

تمرین:

| | | |
|---|---|---|
| ظ | ظ | ________ |
| ـظ | ـظ | ________ |
| ظرف | ظرف | ________ |
| نظیفه | نظیفه | ________ |

تش ځایونه دې د چوکاټ په مناسبو کلمو ډک شي:

____ دې په صابون پاک پرېولل شي.

د ناروغ سړي ______ دې بېل وساتل شي.

____ او ____ په پاک ظرف کې ډوډۍ خوري.

______ ظرفونه لمر ته ږدي.

| | |
|---|---|
| نظیفه | نظیر |
| ظرف | ظریف |
| ظرفونه | |

## مصورې کلمې:

# کال ، میاشتې ، اوونۍ ، ورځې

یو کال دولس میاشتې وي. یوکال څلور فصلونه وي. د کال د فصلونو نومونه دا دي :

| | | | |
|---|---|---|---|
| پسرلی | اوړی | منی | ژمی |

هر فصل درې میاشتې وي. د هر فصل د میاشتو نومونه دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| پسرلی: | وری | غویی | غبرګولی |
| اوړی : | چنګاښ | زمری | وږی |
| منی : | تله | لړم | لیندۍ |
| ژمی : | مرغومی | سلواغه | کب |

یوه میاشت دېرش ورځې یا څلور اوونۍ وي .یوه اوونۍ اووه ورځې وي.

د اوونۍ ورځې دا دي:

شنبه یکشنبه دوشنبه سه شنبه چهارشنبه پنج شنبه جمعه

پوښتنې:

یو کال څو فصله دی؟ یو کال څو میاشتې وي؟

یو فصل څو میاشتې وي؟ یوه میاشت څو ورځې وي؟

یوه اوونۍ څو ورځې وي؟

د کال د فصلونو نومونه دې ولیکل شي: ____ ____ ____ ____

د میاشتو نومونه دې ولیکل شي:

____ ____ ____ ____ ____ ____ ____ ____ ____

____ ____ ____

د اوونۍ د ورځو نومونه دې ولیکل شي:

____ ____ ____ ____ ____ ____ ____

# ښوونځی

ښوونځی د زده‌کړې ځای دی. موږ هره ورځ په خپل وخت ښوونځي ته ځو. هلته درس وایو او لیک زده کوو. په تفریح کې لوبې کوو. ښوونځی زموږ د کور په شان دی او د کور په شان یې پاک ساتو. د ونو ښاخو نه یې نه ماتوو او د ګلانو بوټي یې نه خرابوو.

له خپلو همزولو سره مینه لرو. یو له بل سره جنګ او جګړه نه کوو.

د خپلو ښوونکو خبرو ته غوږ نیسو. په خپلو درسونو کې کوښښ کوو.

مشق :

زده‌کوونې دې ووایي، چې دوی په ښوونځي کې څه کوي؟

په ښوونځي کې زده‌کوونکي څه شی زده کوي؟

زده کوونکي ولې ښوونځي ته ځي؟

ښوونځی ولې پاک ساتو؟

# اتفاق او همکاري

ېو شل او ېو ړوند په يوه ځنګله کې پاتې شوي وو. ړانده لاره نه ليده. شل تلی نه شو. ړانده شل ته وويل: "ته به زما پر اوږو کښېنې. لاره به راته ښيې. زه به مزل کوم. "په دې توګه دواړه له ځنګله څخه ووتل.

مشق:

مزل ______________

ړوند ______________

مثل ______________

ځوابونه دې له خپلو پوښتنو سره ونښلول شي:

| پوښتنې | ځوابونه |
|---|---|
| په ځنګله کې څوک پاتې شوي وو؟ | اتفاق او همکاري |
| شل د چا پر اوږو کښېناست؟ | ړوند او شل |
| ړوند ولې شل پر خپلو اوږو کښېناوه؟ | ړوند |
| د کيسې مطلب څه شی دی؟ | چې لاره ورته وښيي |

Supported and coordinated by UNICEF and Save the Children (USA)

Printed at Intol Printing and Packaging